

# د خپل تلیفون په بیل پوهیدل

## ستاسو د تلیفون په بیل کې څه دي؟

- **لنډ معلومات:** د تېرې میاشتې د بیل اندازه او تادیه، اوسنی پور شوی مقدار، او د پیسو د ورکولو نېټه.
- **د شرکت معلومات:** که تاسو پوښتنې لرئ، نو څنګه کولای شئ د مخابراتي شرکت سره اړیکه ونیسئ.
- **د CPUC او FCC معلومات:** که تاسو د ستونزې د حل لپاره مرستې ته اړتیا لرئ، څنګه له دې ادارو سره اړیکه ونیسئ.
- **پلانونه او خدمات:** دا د تلیفون خدمات او د هغوی لګښتونه تشریح کوي.
- **د تادیې برخه:** که تاسو خپل تادیه د پوستې له لارې لیږئ نو دا برخه د خپل چیک سره واستوئ.
- **د نورو شرکتونو لګښتونه:** که بل شرکت تاسو ته د اوږدې واټن زنګونو یا نورو خدماتو لپاره بیل ولیږي، د هغوی لګښتونه او د دې شرکت سره د اړیکې څرنګوالی به په یوه جلا برخه کې ښکاره شي.

## د خپل بیل تادیه کول

خپل بیل له ټاکلې نېټې څخه څو ورځې مخکې ورکړئ تر څو د ناوخته تادیې فیس یا د خدماتو د قطع کېدو مخه ونیول شي. که تاسو د ټاکلې نېټې پورې بیل نه شئ تادیه کولای، نو باید خپل مخابراتي شرکت ته زنګ ووهئ او پوښتنه وکړئ چې ایا کولای شئ وروسته تادیه وکړئ یا جزي پیسې ورکړئ تر څو ستاسو خدمات فعال پاتې شي.


## د خپل تلیفون په بیل پوهیدل

### اضافي لګښتونه

ستاسو په بیل کې به اضافي لګښتونه هم ښکاره شي، لکه:

- **د تنظیم لګښتونه:** دا د خدماتو پیل کولو یا بدلولو لپاره یو ځل لګښتونه دي.
- **فیسونه، مالیات او اضافي لګښتونه:** ټول مخابراتي شرکتونه دا لګښتونه اخلي. دا د حکومتونو لخوا اړین دي.

په شاتنی برخه کې دوام لري




د ټیلیفون بیل ډېر معلومات لري او ښایي پوهېدل یې لږ ستونزمن وي. مهمه نه ده چې تاسو کوم ډول ټلیفوني خدمات لرئ، خو تل دا په یاد ولرئ:

- تاسو حق لرئ چې د خپل ټلیفون په بیل پوه شئ.
- هره میاشت خپل بیل وګورئ، که پکې داسې څه وي چې تاسو پرې نه پوهېږئ یا مو نه وي غوښتي، نو سمدستي خپل مخابراتي شرکت ته زنګ ووهئ او د وضاحت غوښتنه وکړئ.

مخکې له دې چې زنګ ووهئ، دا بروشر ولولئ. کېدای شي په دې کې هغه ځوابونه وي چې تاسو ورته اړتیا لرئ.

.505 Van Ness Ave
San Francisco, CA 94102

(Toll Free) 800-848-5580
cpuc.ca.gov

California Public Utilities Commission

## د خپل تلیفون په بیل پوهیدل

*د مخته برخې څخه دوام لري*

- **411 لګښتونه:** مخابراتي شرکتونه معمولاً د لارښود مرستې (411) له لارې د تلیفوني شمېرو ترلاسه کولو لپاره فیس اخلي.
- **د تلیفون کارت لګښتونه:** دا د تلیفونونو لګښتونه دي او د هغه تلیفون کارت په کارولو سره چې د تلیفون شرکت تاسو ته درکړي دي، اخیستل کیږي. دا زنګونه ممکن له دې څخه ډېر لګښت ولري چې مستقیم له خپل ټیلیفون څخه زنګ ووهئ.
- **د اضافي دقیقو لګښتونه:** که تاسو ټاکل شوي خدمت کاروئ، په بیل کې به دا لګښتونه ښکاره شي چې ستاسو د ټاکل شوې کچې څخه زیات شوې وي.

### ګټور خدمات وټاکئ

مخابراتي شرکتونه اکثره داسې وړاندیزونه کوي، لکه:

#### پکېجونه:

ځیني شرکتونه د تلیفون، کیبل او انټرنیټ په څیر خدمات د پیکج په توګه پلوري. که تاسو ټول خدمات غواړئ، نو دا ممکن یو ښه فرصت وي. که داسې نه وي، نو تاسو ممکن په منظم قیمت د لږو خدماتو په اخیستلو سره ډیري پیسې سپما کړئ.

#### د اساسي خدماتو انتخابونه:

د ثابت یا مځکني ټلیفون شرکتونه عموماً دا خدمات وړاندیز کوي:

- په یوه محلي سیمه کې د یوې میاشتنۍ بیې سره لامحدود وړیا ټلیفوني اړیکي.
- په ټیټه بیه وړیا او محلي زنګونو محدود مقدار او که تاسو له ټاکلي کچې زیات زنګونه ووهئ، نو ستاسو څخه اضافي لګښت اخیستل کیږي. که تاسو هره میاشت ډېر زنګونه نه وهئ، دا خدمات پیسې سپموي.

بې‌سیم شرکتونه ممکن داسې خدمات وړاندې کړي چې تاسو پیسې مخکې تادیه کوئ او کله چې ستاسو دقیقې پای ته ورسیږي، نو نورې دقیقې به په بیه اخلئ.

## ستونزې

که تاسو د لګښتونو په اړه ستونزه لرئ، سمدستي شرکت ته خبر ورکړئ. کله چې تاسو زنګ ووهئ، له چا سره مو خبرې وکړې او څه ویل شول، ثبت یې وساتئ. که چیرې شرکت ستاسو بیل سم نه کړي، تاسو کولای شئ د کالیفورنیا د عامه خدماتو کمیسیون سره شکایت ثبت کړئ.

**د CBO د اړیکو معلومات:**

California Public Utilities Commission

**په ګڼو ژبو د اړیکو نیولو لارښوود او مرستې پروګرام**

**(TEAM) پروګرام**

www.cpuc.ca.gov/team-and-changes

teamandchanges@cpuc.ca.gov

که تاسو د خپل خدماتو وړاندې کوونکي سره ستونزه نه شئ حلولای، د خپل TEAM CBO سره اړیکه ونیسئ.